# دَ خلاصون لار

دَ

کتابِ مقدس
په الفاظو کښې

# دَ خلاصون
# لار

## د کتاب مقدس
## په الفاظو کښې

# د خلاصون لار

## دیباچه

د لوستونکو صاحبانو په خدمت کښے دا عرض دے چه په دے ورکوټی کتاب کښے یو څو آیاتونه دي چه له کتاب مقدس نه اخستے شوی دي. امید دے چه د لوستلو نه پس به تاسو پخپله په شوق او په رښتني زړۀ سره کتاب مقدس وګورئ. ولے چه هم د هغۀ په وسیلے حق تعالٰی ټولو ایماندارانو ته حقیقت او د ژوندون کامله لار ظاهروی.

ځکه چې د خدائے کلام ژوندے او اثر ناک او د هرے یوے دوه مخے تُورے نه زیات تیرۀ دے....

(عبرانیان ۴: ۱۲).

خدائے فرمائیلی دي چه: همداسے زما کلام دے چه مے د خولے نه وتی. هغه به ماله بے اثره واپس رانه شی مګر څه چه زه خوښوم هغه به ئے پوره کوی او د څه د پاره چه ما ولیږۀ په هغۀ کښے به ترقی مومی.

(یشعیاه **۵۵**: ۱۱).

ستا د کلام پوهیدل انسان ته نور وربخښی او ساده ګانو ته هوښیارتیا وربخښی.

(زبور ۱۱۹: ۱۳۰).

## د دنیا پیدایښت

په ازل کښې خدائې آسمانونه او زمکه پیدا کړل (پیدایښت ۱:۱).
او د هغۀ په وسیله ټول څیزونه په وجود کښې راغلل. څه چه په وجود کښې راغلل، یو څیز هم بغیر د هغۀ نه په وجود کښې رانۀ غې. (یوحنا ۱ : ۳)

## د انسان پیدایښت

خدائې انسان په خپل شکل پیدا کړو، د خدائې په شکل ئې پیدا کړو، نر او ښځه ئې پیدا کړل (پیدایښت ۱ : ۲۷).
رب خدائې انسان د زمکې له خاورو نه جوړ کړو او د هغۀ په سپیږمو کښې ئې د ژوندون روح وپوکلو او انسان ژوندے شو. او بیا رب خدائې په عدن کښې نمر خاتۀ ته یو باغ نهال کړو او هغه انسان چې ئې جوړ کړې وۀ هلته ئې وساتلو (پیدایښت ۲ : ۷-۸).
رب خدائې آدم د عدن په باغ کښې وساتلو چه د هغۀ باغباني او ساتنه وکړي. او رب خدائې آدم ته حکم وکړو چه د باغ له هرے اونې نه خوره خو فقط د ښو او بدو د پیژندلو له اونې نه مۀ خوره ولې چه په کومه ورځ چه ته له هغې نه وخورے ضرور به ته مړ شے (پیدایښت ۲ : ۱۵-۱۷).

# د ګناه راتلل

مار د نورو ټولو ځناورو نه چه رب پیدا کړی وو ډیر چالاک وه. نو ښځې ته ئې ووُئیل چه: خدائې رښتیا داسې ویلی دی چه د باغ له هرې اونې نه مۀ خورئ؟ ښځې مار ته ووئیل چه: مونږ د باغ د هرې یوې اونې له میوې نه خوړلې شو، مګر خدائې فرمائیلی دی چه کومه ونه چه د باغ په مینځ کښې ده د هغې د میوې نه مه خورئ او لاس پرې هم مه لګوئ ګنې تاسو به مړۀ شئ. نو مار هغې ته ووئیل چه بلکل به نۀ مرئ ځکه چه خدائې ته معلومه ده چه کومه ورځ چه تاسو ترې نه وخورئ نو ستاسو سترګې به پرانستلې شي او تاسو به د خدا ې په شان، ښه او بد وپیژنئ او چه ښځې ولیدل چه دا ونه د خوراک د پاره ښه ده او په سترګو ښه لګی او داسې اونه ده چه سړې ته عقل وربخښی، نو د هغې له میوې نه ئې واخستل او وئې خوړله او خپل خاوند له ئې هم ورکړه او هغۀ هم وخوړله (پیدایښت ۳: ۱-۶).

نو رب خدائې ښځې ته ووئیل چه دا دې څه وکړل؟ ښځې ووئیل چه: مار وغلولم، نو ومې خوړله. پس رب خدائې مار ته ووئیل: په دې وجه چه تا دا کار کړې دې ځکه ته له ټولو څاروو نه او د میدان له ټولو ځناورو نه لعنتی شوې. په خپله ګیډه به ځې او په خپل ټول عمر کښې به خاورې خورې او زه به ستا او د ښځې په مینځ کښې او

ستا د نسل او د هغې د نسل په مينځ کښې دښمنی واچوم نو هغه به ستا سر چخښی کوی او ته به د هغهٔ پونده چيچې. ښځې ته ئې ووئيل چه زهٔ به ستا د اميدواری تکليف ډير زيات کړم ته به په عذاب سره ماشومان راوړې او خپل خاوند ته به د ے شوق وی او هغه به درباند ے حکومت کوی. او آدم ته ئې ووئيل: په د ے وجه چه تا د خپلې ښځې خبره واوريدله او له هغه اونې نه د ے وخوړله چه د هغې په حق کښې ما حکم درکړے وۀ چه تر ے نه مه خوره، نو ځکه ستا په وجه زمکه لعنتی شو ے ده او تر ے نه به ټول عمر په خوارئ سره خور ے. هغه به ستا د پاره اغزی او مارکنډئ راوړی او ته به د ميدان شينکی خور ے. ته به د خپل مخ د خولو سره ډوډئ خور ے يعنې تر هغه پور ے چه زمکې ته بيرته تلې نه يې ولې چه تر ے نه اخستې شو ے يې ځکه چه تهٔ خاوره يې او خاوره به شې (پيدايښت ۳: ۱۳-۱۹).

نو دا لويه اژدها لاند ے راوغورزولې شوه، دا هغه زوړ مار چه شيطان يا ابليس بللې شی چه ټول عالم غُلوی، هغه د خپلو فرښتو سره لاند ے مزکې ته راګُذار کړ ے شو (مکاشفه ۱۲: ۹).

د يو سړی په وسيله ګُناه دُنيا ته راغله او د ګُناه په وسيله مرګ. او دغه شان مرګ په ټول اِنسانی نسل قبضه وکړله تر د ے چه ټولو بنی آدمو ګُناه وکړله (روميانَ ۵: ۱۲).

# د خدائے په مخکښې د انسان مُجرم کیدل

مونږ ټول د ګډو په شان بے لارے شو. او هر یو په خپلے خپلے لارے روان وو. سره د دے خدائے زمونږ د ټولو خطاګانی په هغه باندے بار کړے
(یشعیاه ۵۳: ۶).

رب له آسمان نه بنی آدمو ته وکتل چه ووینی که څوک وی چه پوهه لری او خدائے لټوی. هغوی ټول بے لارے شو. ټول په خپلو کښے پلیت شول. هیڅوک نشته چه نیکی کوی یو هم نشته (زبور ۱۴: ۲-۳).

لکه چه صحیفے وائی چه: هیڅوک صادق نِشته، یو هم نِشته. هغوئ د سلامتئ د لوئے لارے نه نا آشنا دی. او د خدائے ویره د هغوئ په خیال کښے نۀ راځی. ځکه چه ټولو ګُناه کړے ده او د خُدائے د لوئی نه محروم دی (رومیان ۳: ۱۰، ۱۷-۱۸، ۲۳).

خو مُقدس کتاب وائی چه ټوله دُنیا د ګُناه په قبضه کښے ده،د دے د پاره چه د بخښنے وعده چه په عیسیٰ مسیح د ایمان راوړلو په وسیله هغه خلقو ته چه ایمان راؤړی ورکړے شی (ګلتیان ۳: ۲۲).

# انسان سره د خدائے مینه

خُدائے د دے دُنیا سره داسے مینه وکړله چه خپل یکی یو زوئے ئے هم ورکړو چه هر هغه څوک چه په زوی ئے ایمان راؤړی هغه هلاک نۀ شی خو د تل عمری ژوندُون بیا مُومی (یوحنا ۳: ۱۲).
او د هغۀ مینه مُونږ ته په دے شان ښکاره شوه چه هغۀ دے دُنیا ته خپل یکی یو زوئے د دے د پاره راولیږلو چه مُونږ د هغۀ په وسیله ژوندُون ولرُو. مینه په دے کښے نۀ ده چه مُونږ له خُدائے سره مینه وکړله بلکه په دے کښے ده چه هغۀ مُونږ سره مینه وکړله، او زمُونږ د گُناهُونو د کِفارے د پاره ئے خپل زوئے راولیږلو.
(اول یوحنا ۴: ۹-۱۰).

## د ابن الله دُنیا ته راتلل

دا خبره رښتیا او په هر طور د قبلولو جوګه ده، چه مسیح عیسیٰ گُناه ګارانو ته د خلاصُون ورکولو د پاره دُنیا ته راغے، چه په هغوئ ټولو کښے لوئے زۀ یم.
(اول تیموتیوس ۱: ۱۵).
هم هغه شان خُوئ لرئ لکه څنګه چه د مسیح عیسیٰ وو. هغه اګر که د خُدائے په صُورت وو د خُدائے سره برابریدل ئے په قبضه کښے د ساتلو څیز ونۀ ګڼلو. بلکه خپل ځان ئے د هغه ټولو اختیارُونو نه

خالي کړو او د غُلام شکل ئے اختيار کړو،او د انسان په شان شو (فيلپيان ۲ : ۵-۷).

هغه په دُنيا کښے وُو او دُنيا د هغۀ په وسيله په وجُود کښے راغله خو دُنيا هغه ونۀ پيژندلو. (يوحنا ۱ : ۱۰)

د عيسیٰ مسيح د پيدا ئينت بيان داسے دے... دا هر څۀ ځکه وشول چه خُدائے د نبی په معرفت څۀ وئيلی وُو هغه پُوره شی: ((ګورئ، يو پيغله به اُميدواره شی او زوئے به ئے وشی او د هغۀ نُوم به عمانوايل کيږدی)) چه معنیٰ ئے ده، خُدائے زمُونږ مل دے (متی ۱ : ۱۸، ۲۲-۲۳).

د هغے به زوئے وشی او تۀ پرے عيسیٰ نُوم کيږده، ولے چه هغه به خپل اُمت د ګُناهُونو نه خلاصوی (متی ۱ : ۲۱).

## په دنيا کښے د هغۀ ژوند تيرول

يعنے د عيسیٰ ناصری په باب کښے چه خُدائے هغه څنګه په رُوح القُدس او په قدرت مسح کړو. هغه به په هر ځائے ګرزيدو او هغۀ ټولو سره ئے ښۀ کول او ټوک چه د ابليس په قبضه کښے وو هغه به يې جوړول ځکه چه خُدائے د هغۀ سره وو. (اعمال ۱۰ : ۳۸)

دغه شان عیسیٰ په ټولو کلو او ښارُونو وګرزیدو او د هغوئ په عبادت خانو کښې ئې تعلیم ورکاوو او د بادشاهئ زیرے ئې آؤروو او هر رنځ او هره کمزورتیا ئې جوړوله (متی ۹: ۳۰).
نو ډیر خلق ورته راغلل چه ورسره ګُډ، کاڼهٔ، ړاندهٔ، شل او ډیر رنځُوران وُو. دوئ هغه خلق د دهٔ په پښو کښې کیښودل او هغهٔ هغوئ جوړ کړل (متی ۱۵: ۳۵).

## د کفارے په طور مړ کیدل

چه ابن آدم به څنګه د ګُناه ګارو سړو په لاس حواله کیږی او په سولئ به شی او په دریمه ورځ به ژوندے پاڅی (لوقا ۲۴: ۷).
او کله چه هغوئ کپرئ نومے ځائے ته ورسیدل نو هغه ئې هلته په سولئ... عیسیٰ ووئیل، "پلاره! دوئ معاف کړه! ځکه چه هغوئ نهٔ پوهیږی چه څهٔ کوی (لوقا ۲۳: ۳۳-۳۴).
بنی آدم ترے په ډډه شو او سپک ئې وګاڼه. د غم انسان وهٔ او د درد آشنا... خو بیا هغهٔ زمونږ رنځونه په خپل ځان واخستل او زمونږ د غمونو بار ئې په ځان پورته کړو، لیکن مونږ د هغهٔ داسے حال ولید لکه چه خدائے وهلے، ټکولے او ربړولے وے. مګر هغه زمونږ د قصورونو د پاره زخمی شو... او د هغهٔ په سزا خوړلو مونږ روغ شو. مونږ ټول د ګډو په شان... ورک شوی یو. هر یو خپلے خپلے لارے ته

وګرزيدو مګر رب زمونږ د ټولو بدئ په هغۀ بوج کړی... هغه د ژوندو له زمکے نه پرے کړے شو. هغه زما د خلقو د ګناه په وجه ووهلے شو او قبر ئے ورته د شريرانو په مينځ کښے تيار کړو مګر هغه له مرګ نه وروستو په غټانو کښے شامل شو، ځکه چه هغۀ هيڅ ظلم نه وۀ کړے او نۀ د هغۀ په خوله کښے ټګی وه... هغۀ خپل ځان د مرګ د پاره ورکړو. هغه د ګناه ګارانو په مينځ کښے شمار کړے شو خو د ډيرو خلقو ګناهونه ئے پورته کړل او د ګناهګارانو شفاعت ئے وکړو (يشعياه **۵۳**: ۳-۶، ۸-۹، ۱۲).

ما د ټولو نه وړومبے هغه اهمه خبره در ورسوله کُومه چه ما ته رارسيدلے وه چه مسيح د کتاب مُقدس په مُطابق زمونږ د ګُناهُونو د پاره مړ شو.

(اول کورنتيان **۱۵**: **۳**).

نو عيسیٰ هغوئ ته ووئيل چه... زه ښه شپونکے يم او ښۀ شپونکے د ګډو د پاره خپل سر ورکوی. او زما نورے ګډے شپول نۀ دی، خو د هغوئ راوستل ضروری دی او هغوئ به هم زما آواز آؤری، نو بيا به رمه يوه شی او شپونکے به ئے هم يو وی (يوحنا ۱۰: ۷، ۱۱، ۱۲).

# د هغه بیا ژوندے کیدل او آسمان ته ختل

هغۀ ووئیل چه دا لیکلی شوی دی چه مسیح به زحمت وزغمی او په دریمه ورځ به له مړو نه بیا ژوندے پاڅی. او د هغۀ په نامه به ټولو قومونو ته د ګناهُونو نه د توبے او د معافئ وعظ کولے شی...
(لوقا ۲۴: ۴۶-۴۷).

خو خُدائے هغه په دریمه ورځ بیا راژوندے کړو ښکاره ئے هم کړو. یعنے بے له مُونږ غوره شوو شاهدانو نه خُدائے هغه بل چا ته ښکاره نۀ کړو، یعنے مُونږ ته چه ورسره مو د بیا ژوندی کیدو نه پس خوراک څښاک وکړو (اعمال ۱۰: ۴۰-۴۱).

هغۀ د خپل مرګ نه پس په هغو ځان څرګند کړو او د دے پوره ثبوت ئے ورکړو چه هغه ژوندے دے او پوره څلویښت ورځے هغه په هغوئ پیښیدو او هغوئ ته ئے د خُدائے د بادشاهئ په حقله تعلیم ور کاوو... کله چه هغۀ دا ووئیل او هغوئ لا ورته کتل چه هغه پورته کړے شو او یوه وریځ راغله او هغه ئے د هغوئ د سترګو نه پناه کړو (اعمال ۱: ۳، ۹).

په دے کښے هیڅ شک نشته چه د دینداریٔ راز لوئے دے، یعنے: هغه چه د انسان په شکل کښے ظاهر شو، او د روح په وسیله رښتونے پاتے شو او فرښتو هغه ولیدو، او په قومونو کښے د هغۀ پیغام خور

شو، او په دُنیا کښې خلقو په هغهٔ ایمان راؤړو،او په جلال کښې پاس اوچت کړے شو (اول تیموتیوس ۳: ۱۶).
خو په حقیقت کښې مسیح راژوندے شوے وو. داسے هغه په مړو کښې اولنے ژوندے شوے سړے دے. ځکه چه د یو سړی په سبب په دنیا کښې مرګ راغے او د یو سړی په سبب د مړو نه راژوندی کیدل راغلل. لکه څنګه چه ټول خلق چه د آدم اولاد دی، مری، هغه شان څوک چه د مسیح دی ټول به ژوندی کړے شی
(اول کورنتیان ۱۵: ۲۰-۲۲).

## د خلاصون الٰهی لار

بیا هغهٔ هغوئ رابهر کړل او وئے وئیل چه "اے صاحبانو! زه څه وکړم چه خلاصون حاصل کړم؟" هغوئ ووئیل چه "په مالک عیسیٰ باندے ایمان راؤړه او تهٔ او ستا کورنئ به خلاصون ومومی"
(اعمال ۱۶: ۳۰-۳۱).
نو توبه وکړئ او خُدائے ته راوګرزئ چه ګناهونه به مو معاف کړی
(اعمال ۳: ۱۹).
پطروس ووئیل،"توبه ګار شئ او په تاسو کښې هر یو دِ د خپلو ګناهونو د معافئ د پاره د عیسیٰ مسیح په نوم بپتسمه واخلی او تاسو ته به روح القدس وبخښلے شی" (اعمال ۲: ۳۸).

که مونږ د خپلو ګناهونو اقرار کوو نو هغه وفادار او صادق دے، او هغه به زمونږ ګناهونه معاف کړی او د هر قسم بدو نه به مو پاک کړی (اول یوحنا ۱ : ۹).
ځکه که ستا په خُلۀ دا اقرار وی چه عیسیٰ مالک دے او په زړۀ کښې دِ دا ایمان وی چه خُدائے هغه د مړو نه راپاڅولو نو تۀ به خلاصون بیا مومې. ولے چه مونږ په زړۀ سره ایمان راؤړو او خُدائے مونږ صادقوی، او په خلۀ دا اقرار کوو نو خلاصون به بیا مومو (رومیان ۱۰ : ۹-۱۰).
ځکه چه تاسو د ایمان په وسیله په فضل خلاصون موندلے دے، دا ستاسو له طرفه نه نه، بلکه د خدائے بخښنه ده (افسیان ۲ : ۸).
هر څۀ چه زما پلار ما ته راکوی هغه به ما له راځی او څوک چه ماله راځی هغه به زه هیڅ کله ونۀ شړم (یوحنا ۶ : ۳۷).
دا تل عمری ژوندون دے چه تا وپیژنی چه تۀ یواځے رښتینے خُدائے ئے او عیسیٰ مسیح چه تا را استولے دے (یوحنا ۱۷ : ۳).

## د هغۀ د وینے په وسیلے فدیه

خو تاسو چه اول لرے وئ او د مسیح په یووالی کښې د مسیح د وینے په وسیله نزدے شوئ (افسیان ۲ : ۱۳).

خو که مونږ په نور کښې ګرزو لکه څنګه چه هغه په خپله په نور کښې دے نو بیا مونږ په خپلو کښې شراکت لرُو، او د هغهٔ د زوی عیسیٰ وینه مونږ د هر یو ګناه نه پاکوی (اول یوحنا ۱ : ۷).

ځکه چه د خدائے دا خوښه شوه چه د هغهٔ ټول کاملیت دِ په مسیح کښې پاتے شی. او خدائے د هغهٔ د وینے په سبب چه په سولئ وبهیدله، صلح وکړله او ټول څیزونه ئے د هغهٔ په وسیله د ځان سره پخلا کړل، آیا که هغه د مزکے وی یا که د آسمانونو (کولوسیان ۱ : ۱۹ - ۲۰).

ځکه چه تاسو خبر یئ چه ستاسو فضول چال چلن چه د پلار نیکه نه مو موندلے دے د هغے نه ستاسو خلاصون د فانی څیزونو، یعنے سرو یا سپینو زرو په وسیله ونهٔ شو، بلکه د یو روغ رمټ او بے داغه ګډوری، یعنے د مسیح د قیمتی وینے په وسیله ( اول پطروس ۱ : ۱۸-۱۹).

مونږ ته د مسیح د وینے په وسیله خلاصون، یعنے د ګناهونو معافی، د هغهٔ د هغه فضل د دولت په مطابق حاصله ده (افسیان ۱ : ۷).

ځکه چه د جسے ژوند په وینه کښې دے او ما په قربانګاه ستاسو د کفارے د پاره هغه تاسو ته درکړے ده چه په هغے ستاسو د پاره کفاره وی ځکه چه په وینه کښې ژوند دے نو هغه کفاره ورکولے شی.

(لاویان ۱۷: ۱۱).

د دے د پاره که څوک په مسیح کښې وی نو هغه نوے مخلوق دے، زاړۀ څیزونه تیر شول، وګورئ هغه اوس نوی شول (دویم کورنتیان ۵: ۱۷).

# روح القدس

او زه به پلار ته خواست وکړم چه تاسو ته بل مددګار درکړی څوک چه به تاسو سره مدام وی، او هغه به د حق روح وی، دنیا هغه نۀ شی قبلولے ځکه چه دنیا نۀ خو هغه وینی او نۀ ئے پیژنی خو تاسو ئے پیژنئ ځکه چه هغه تاسو سره اوسی او په تاسو کښې وی (یوحنا ۱۴: ۱۲-۱۷).

خو مددګار یعنے روح القدس چه به پلار زما په نوم را استوی، هغه به تاسو ته هر څۀ ښائی او بیا به درته هغه څۀ رایادوی،کوم چه ما تاسو ته وئیلی دی (یوحنا ۱۴: ۲۲).

او د خدائے پاک روح خفه کوئ مه، د کوم نه چه په تاسو د خلاصون د ورځ د پاره مهر لګولے شوے دے (افسیان ۴: ۳۰).

زما مطلب دا دے چه که تاسو د خدائے د روح په ښودلی لار روان یئ نو دا جسمانی شوقونه به هیڅ کله هم پوره نۀ کړئ (ګلتیان ۵: ۱۲).

ځکه چه هر څوک چه د خدائے د روح په هدایت چلیږی، هغه د خُدائے بچی دی (رومیان ۸: ۱۴).
او په شرابو مستیږئ مه ځکه چه د دے نه بدکاری پیدا کیږی، بلکه په پاک روح معمور شئ (افسیان ۵: ۱۸).
خو د خدائے د روح میوه مینه، خوشحالی، سلامتی، زغم، مهربانی، نیکی، ایمانداری، عاجزی او پرهیزګاری ده. د داسے کارونو یو شریعت هم مخالف نهٔ دے (ګلتیان ۵: ۲۲-۲۳).

# پاکوالے

نو د خدائے دا مرضی ده چه تاسو پاک شئ، یعنے د حرامکارئ نه ځان وساتئ (اول تسالونیکیان ۴: ۳).
د دے خبرو نه پس عیسیٰ پورته وکتل او وئے وئیل... دوئ د حقیقت په وسیله مقدس کړه، ستا کلام حقیقت دے (یوحنا ۱۷: ۱، ۱۷).
ځکه چه پاکوونکے او پاکیدونکے ټول د یو اصل نه دی، ځکه خو عیسیٰ هغوئ ته په ورور وئیلو نهٔ شرمیږی (عبرانیان ۲: ۱۱).
هم دغه شان تاسو خپل ځانونه د ګناه د پاره مړهٔ وګڼئ او د عیسیٰ مسیح سره په شاملیدو کښے د خدائے په نزد ژوندی یئ (رومیان ۶: ۱۱).

خو اوس تاسو د ګناه د غلامۍ نه آزاد يئ او د خدائے غلامان يئ، نو تاسو خدائے ته وقف شوی يئ او انجام مو د تل ژوندون دے (روميان ۶ : ۲۲).

خدائے چه د سلامتۍ سر چينه دے تاسو د په خپله بلکل پاک کړی،او ستاسو روح اؤ ځان او تن دِ زمونږ د مالک عيسیٰ مسيح تر راتلو پورے پوره بے عيبه وساتی. ستاسو رابلونکے رښتونے دے، هغه به هم دغسے کوی (اول تسالونيکيان ۵: ۲۳-۲۴).

## دعا

رښتيا چه تاسو څۀ چه هم زما په نوم وغواړئ هغه به زه کوم ځکه چه د پلار جلال په زوی کښے ښرګند شی تاسو چه څۀ هم زما په نوم وغواړئ زه به ئے کوم (يوحنا ۱۴ : ۱۳-۱۴).

که تاسو په ما کښے اوسئ او زما خبرے په تاسو کښے اوسی نو چه تاسو څۀ غواړئ د هغے خواهش کوئ او زه به ئے درکوم (يوحنا ۱۵ : ۷).

تر اوسه پورے تاسو زما په نوم هيڅ نۀ دی غوښتی. وغواړئ او دربه کړے شی په دے چه ستاسو خوشحالی مکمله شی (يوحنا ۱۶ : ۲۴).

ځکه زه تاسو ته وایم چه د هر څۀ د پاره چه تاسو دعا یا سوال کوئ نو په دے یقین ولرئ چه دا تاسو حاصل کړو، نو ستاسو به شی (مرقوس ۱۱ : **۲۴**).
او هر وخت په هر شان په روح القدس کښے دعا کوئ او زاری کوئ، او د دے د پاره بیدار اوسئ او د ټولو پاکانو د پاره بے ناغے دعا کوئ (افسیان **۶** : **۱۸**).
په دعا کښے ناغه مۀ کوئ (اول تسالونیکیان **۵**: **۱۷**).

# خدمت او مصیبت

بیا عیسیٰ خپلو مریدانو ته ووئیل چه "څوک په ما پسے راتلل غواړی، هغه دِ د خپل ځان نه منکر شی، خپله سولئ دِ په خپله راواخلی او ما پسے دِ راځی (متی **۱۶** : **۲۴**).
او خدائے تاسو له د حاجت نه زیات درکولے شی د پاره د دے چه تاسو سره تل هر څۀ زیات وی او داسے د هر نیک کار د پاره دِ تاسو سره زیات وی (دویم کورنتیان **۹** : **۸**).
نو اے زما خوږو ورونړو! ټینګ او قائم اوسئ او همیشه د مالک په کار کښے بوخت اوسئ ځکه چه تاسو خبر یئ چه په مالک کښے ستاسو خواری بے فائدے نۀ ده (اول کورنتیان **۱۵** : **۵۸**).

ځکه چه د مسیح د خاطره په تاسو دا فضل وشو چه نهٔ یواځے په هغهٔ ایمان راؤړئ بلکه د هغهٔ د خاطره تکلیفونه هم وزغمئ (فیلیپیان ۱ : ۲۹).

او که د صداقت د خاطره مصیبتونه هم وزغمئ نو تاسو بختور یئ. ((د هغوئ په ویرولو مه ویریږئ او زړونه مه بائیلئ.)) (اول پطروس ۳ : ۱۴).

که چرے د مسیح د نوم په سبب تاسو ته بدرد ووئیلے شی نو تاسو بختور یئ، ځکه چه د جلال روح، یعنے د خدائے روح په تاسو سورے کوی (اول پطروس ۴ : ۱۴).

## د بت پرستئ ممانعت

زه رب ستا خدائے یم ... زما په وړاندے دِ ستا نور خدایان نه وی. ته به د ځان د پاره تراشلے بت نه جوړوے اَو نه د څهٔ څیز صورت چه پاس په آسمان کښے یا ښکته په زمکے یا د زمکے د لاندے په اوبو کښے دے. نه به ورته سجده کوے او نه به ئے عبادت کوے ولے چه زه رب ستا خدائے غیرت ناک خدائے یم (خروج ۲۰ : ۲-۵).

د قومونو ټول خدایان تش بتان دی مګر رب آسمانونه جوړ کړل (زبور ۹۴ : ۵).

نو د بتانو د قربانۍ د غوښې د خوراک په باب مونږ پوهیږو چه بت په دنیا کښې هیڅ شے نۀ دے او سیوا د یو نه بل خدائے نِشته (اول کورنتیان ۸: ۴).

خو عیسیٰ ورته ووئیل چه "ورک شه شیطانه! صحیفې وائی چه: ((تۀ به خپل مالک خدائے ته سجده کوے او تش د هغۀ بندګی به کوے.))" (متی ۴: ۱۰).

نو بیا هغه شوقونه مړۀ کړئ کوم چه مزکین دی، یعنې حرامکاری، ناپاکوالے، شهوت، بد خواهشات او حرص چه بت پرستی ده، چه د هغې په سبب د خدائے غضب د نافرمانۍ په بچو نازلیږی (کولوسیان ۳: ۵-۶).

## د خلاصون د رد کولو خطر

نو بیا د دومره لوئے خلاصون نه په غافل پاتې کیدو مونږ څنګه بچ کیدے شو؟ کوم خلاصون چه وړومبے د مالک په وینا وشو او آؤریدونکو مونږ ته ثابت کړو (عبرانیان ۲: ۳).

څوک چه په زوئے ایمان راوړی نو هغه د تل ژوندُون لری، خو څوک چه د زوئے نافرمانی وکړی هغه به دا ژوندون ونۀ وینی لیکن د خدائے غضب په هغۀ دے (یوحنا ۳: ۳۶).

خلق بهر راووتل چه د یحییٰ نه بپتسمه واخلی او هغهٔ هغوئ ته ووئیل چه اے د مارانو بچو! تاسو چا خبر کړئ چه د راتلونکی غضب نه وتښتئ؟ (لوقا ۳: ۷).
هر څوک چه غالب شی هغه به د دې وارث شی، زه به د هغهٔ خدائے یم او هغه به زما زوئے وی. خو د ویریدونکو، بے ایمانو، پلیتانو، قاتلانو، حرامکارانو، جادوګرانو، بت پرستانو او هر قسم دروغژنو برخه به په هغه تالاب کښے وی چه په کښے د ګوګړو اور بلیږی، او دا دویم مرګ دے. (مکاشفه ۲۱: ۷-۸).

# له بدئ نه او له شیطان نه بچ کیدل

او خدائے چه د سلامتئ سرچینه دے، هغه به ډیر زر شیطان ستاسو د پښو لاندے چخښی کړی (رومیان ۱۲: ۲۰).
او د هغه پلار شکر کوئ چا چه تاسو د دے جوګه کړئ چه د هغهٔ په میراث کښے حصه دار شئ. دا هغه میراث دے چه د پاکانو سره به د هغه نور په بادشاهت کښے برخه ولرئ. خُدائے مُونږ د تیارے د قبضے نه راخلاص کړلُو او د خپل محبوب زوئے په بادشاهئ کښے ئے داخل کړلُو.
(کولوسیان ۱: ۱۲-۱۳).

... او د خُدائے زوئے له ازل نه ځکه ښکاره شو چه د اِبلیس کارونه برباد کړی (اول یوحنا **۳**: **۸**).

زمونږ د پلار خُدائے او د مالک عیسیٰ مسیح له طرفه دِ په تاسو فضل او سلامتی وی، چا چه زمونږ د ګناهونو د پاره خپل ځان قُربان کړو چه مونږ د دے موجوده بدے زمانے نه بچ کړی، لکه چه زمونږ د خدائے او پلار رضا ده د هغۀ جلال دِ تل تر تله وی! آمین (ګلتیان **۱**: **۳-۵**).

د خدائے په ټولو وسلو ځان سنبال کړئ د دے د پاره چه تاسو د اِبلیس د منصوبو مقابلے ته ټینګ ودریدے شئ (افسیان **۶**: **۱۱**)

خو د خُدائے شکر دے چه هغۀ مونږ ته د مالک عیسیٰ مسیح په وسیله فتح راکوی (اول کورنتیان **۱۵**: **۵۷**).

# د مسیح بیا راتلل

او که هلته زه لاړ شم او تاسو ته ځائے تیار کړم نو په خپله به بیا راشم او تاسو به د ځان سره بوزم، ځکه چه چرته چه زه یم هلته به تاسو هم یئ.

(یوحنا **۱۴**: **۳**).

او وئے وئیل چه "ائے ګلیلیانو! تاسو دلته څۀ له آسمان پلو ځیر ځیر ګورئ؟ دغه عیسیٰ ځوک چه ستاسو نه آسمان ته بوتلے شو، هم په دغه لار به بیا راځی په کومه چه تاسو د تلو په وخت ولیدلو."
(اعمال ۱: ۱۱).
ځکه چه مالک به په خپله د آسمان نه د چغے، او د مقربے فرښتے د آواز، او د خُدائے د بګل د آواز سره راکُوزیږی، او اول به هغه ځوک چه په مسیح کښے مړۀ شوی دی راژوندی شی. او بیا به مونږ ځوک چه ژوندی پاتے یُو، د هغوئ سره په وریځو کښے پورته کړے شو د دے د پاره چه په هوا کښے د مالک استقبال وکړو، او دغه شان به د مالک سره تل تر تله اوسو (اول تسالونیکیان ۴: ۱۲-۱۷).
خوږو دوستانو! مونږ اوس هم د خُدائے بچی یُو خو په دے نۀ پوهیږو چه څنګه به شو، خو مُونږ په دے پوهیږو چه هر کله چه عیسیٰ راښکاره شی نو مُونږ به د هغۀ په شان شُو ځکه چه مُونږ به ئے هم په هغه شان وینُو څنګه چه هغه دے (اول یوحنا ۳: ۲).
بیدار اوسئ، ځکه چه تاسو هیڅ خبر نه یئ چه مالک به په کومه ورځ راځی. تاسو هم تیار اوسئ چه ابن آدم به په داسے وخت راځی چه ستاسو په وهم و ګمان کښے به هم نۀ وی (متی ۲۴: ۴۲، ۴۴).
هو! ګورئ! زه عیسیٰ زر درځم او خپل اجر د ځان سره راوړم چه هر یو له د هغۀ د عمل په مطابق اجر ورکړم (مکاشفه ۲۲: ۱۲).

او ژوک چه د دے خبرو شهادت ورکوی هغه وائی چه "هو،زه زر درځم!" آمین، مالک عیسیٰ راشه!
(مکاشفه ۲۲ : ۲۰).